ژباړن: سیلانی

۲۰۲۶/۰۹/۱۰

# د قاين او طبس د يوه عالم په اړه د تيمور شاه دراني فرمان

شېرم فرمان: د تيمورشاه دراني فرمان

۱. د فرمان موضوع: د مير سيد علي ګزيکي د لمسي، ميرزا قاسم، د ماليې کمول.
۲. د فرمان نېټه: ۱۱۹۶ هـ.ق.
۳. د مُهر مسجع ليکنه: «يا هو، المُلکُ لله؛ عَلَم شد از عنايات الهی، به عالَم دولت تيمورشاهی، ۱۱۸۶.»
۴. د فرمان متن:
بسم الله خيرالاسماء
بسم الله الرحمن الرحيم
اعوذ بالله تعالی شأنه، همايوني فرمان صادر شو: د قاين او طبس مسينا د الکا اوسني او راتلونکي حاکمان او کارکوونکي، چې په شاهانه لورېينه سرلوړي شوي دي، پوه دې شي: څرنګه چې د جنت‌المکان خاقان ـ انارالله برهانه ـ د ليکلي فرمان له مخې هر کال دوه تبريزي تومان د ماليې د کمښت په بنه د شرافت او نجابت خاوند، لوړپوړي ميرزا قاسم په ګټه ټاکل شوي و؛ نوموړی د مرحوم او مغفور مير سيد علي جزيکي لمسی دی. دغه اندازه پر نوموړي له وضع شوې دولتي ماليې څخه کمه شوې وه، ترڅو هر کال يادې شوې پيسې د خپلې ګوزارې لپاره ولګوي، د ديني علومو پر زده‌کړه بوخت وي او د تلپاتي دولت د پايښت لپاره دعا وکړي. په دې وخت کې د شرافت خاوند ياد ميرزا قاسم د مبارک ليکلي فرمان د تاييد غوښتنه وکړه. څرنګه چې د عالمانو او پوهانو پالنه هر وخت د اشرف مقام د فيض‌بښونکي نظر وړ ده.
ياد دوه تومان دې د جنت‌المکان خاقان د لاسليک شوي فرمان له مخې هر کال د ماليې د کمښت په بنه ټاکل شوي وګڼي. د رسيد پر بنسټ، چې د مبارک فرمان په رسمي نقل کې درج شوی، ياده اندازه دې په خپلو لګښتي حسابونو کې اجرا شوې او محاسبه شوې وشمېري او د نوي فرمان غوښتنه دې نه کوي.د اعلی ديوان درانه او ستر مستوفيان دې د دغه واجب‌الاطاعه مبارک فرمان رسمي نقل په اړينو دفترونو کې ثبت کړي او له ټاکلي حکم سره سم دې هر کال ياده اندازه د قاين او طبس د الکا د حاکم او کارکوونکو په لګښتي حساب کې اجرا شوې او محاسبه شوې وګڼي. ټول اړوند لوري دې د دغه حکم پلي کول پر خپله غاړه لازم وبولي. دا فرمان د ۱۱۹۶ هـ.ق. کال د جمادي‌الاول په مياشت کې وليکل شو.
د سند د متن په اړه څرګندونې
۱. لکه څنګه چې د دغه فرمان له متن څخه څرګندېږي، دا فرمان د احمدشاه دراني د ۱۱۶۸ هـ.ق. نېټې د فرمان تاييد دی.
۲. په دې فرمان کې يو ځل بيا د قاين او طبس مسينا دوه‌ګونی سيمه‌ييز وېش ليدل کېږي.
۳. په دې فرمان کې، د احمدشاه دراني د ۱۱۷۱ هـ.ق. نېټې له فرمان سره په توپير کې، د سيمې د حاکم نوم نه دی ياد شوی.
نوټ: خلورمه برخه، بله برخه هم لري.

ليکوالان: محمدرضا سروش او رقيه زعفرانلو (د جنوبي خراسان د فرهنګي ميراث عمومي اداري د لرغونپوهنې لوړپوړي کارپوهان)
ژباړن: سيلانی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ